رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْهُ

# شانِ عثمانِ غني

15-August-2019



هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# شانِ عثمانِ غني

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه كله جُمات ته داخل شئ، چه ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چه جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چه د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِكاف نِيَّت هُم صرف خوراك څښاك يا اُوده كيدو د پاره كول نه دي پكار بلكه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. **"فتاویٰ شامی"** كښې دي: كه څوك جُمات كښې خوراك څښاك يا اُوده كيدل غواړي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ اوكړي، لږ ساعت دِ ذِكْرُ الله اوكړي بيا چه څه غواړي كوي دِ (يعني بيا كه غواړي نو خوراك څښاك كولے شي او اُوده كيدے شي)

## د دُرُود شريف فضيلت

د حضورِ اكرم، نورِ مجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: د الله تعالیٰ د رضا د پاره خپل مينځ كښې مَحبَّت كوونكي چه كله ملاقات اوكړي او مُصافَحه اوكړي

(يعني لاس مِلاو کړي) او نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) باندې دُرُودِ پاك اوليږي نو د هغوئي د جُدا کيدو نه مخکښې د دواړو تير شوي او راروان ګُناهونه معاف کړے شي.

(مسند ابی یعلی، مسند انس بن مالک، ۳/ ۹۵، حدیث ۲۹۵۱)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **"نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ"** د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز کار کښې چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

## د بيان اوريدو نيتونه

نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❁ چه څومره کيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې ] کښينم ❁ د بل د پاره ځائے فراخه کولو د پاره به ضرورتاً د خپل ځائے نه خوزيږم ❁ که د چا په دِيکه وغيره اولګيدم نو د بد بد کتلو، رټلو او بحث کولو په ځائے به صبر کووم. ❁ صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب، اُذْکُرُوا الله، تُوْبُوْا اِلَى الله وغيره چه اورم نو د ثواب ګټلو او د آواز لګوونکو د زړه ساتلو د پاره به په اوچت آواز باندې جواب ورکووم. ❁ د اِجتِماع نه پس به پخپله ورمخکښې کيږم او سَلام و مُصافَحه او اِنفرادي کوشش به کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] (معجم کبیر سهل بن سعد الساعدی...الخ، ۶/ ۱۸۵، حدیث ۵۹۴۲)

**مُحترمو او خوږو اسلامي ورونړو!** د **ذُوالْحِجَّةِالْحرام** مياشت جاري ده او خپل رحمتونه او برکتونه وَرَوي. د دې مياشتې په اتلسم تاريخ د دريم خليفه راشد، د سخاوت نمونه، ډير زيات حياکوونکے او د الله او رسول (عزوجل و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) تابعدار **اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرت سيدنا عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه د شهادت ورځ ده او دا ورځ نزدے راروانه ده، په دې مناسَبَت سره به نن مونږ د هغوئي د سِيرت او کِردار مُتَعَلِّق څه مدني ګلونه د اوريدو سعادت حاصلوو. د ټولو نه وړومبے به د **اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرت سيدنا عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه د عشقِ رسول يوه قصه اورو. دې سره سره به د **اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرت سيدنا عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه د خدماتو او د هغوئي په فضائلو مشتمل احاديث اورو. د هغوئي رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْهُ د عشقِ رسول مُتَعَلِّق به هم اورو. دې سره سره دا د صدرالافاضل حضرت مولانا سيد نعيم الدين مراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د اميرِ اهلسنت حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د والدِ محترم حاجي عبد الرحمٰن قادري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وصال ورځ هُم ده. په دې مناسَبَت به نن د هغوئي د سيرتِ مبارکه په باره کښې هُم يو څو مدني ګلونه [يعني نکات] د اوريدو سعادت حاصلوو. الله پاك دِ مونږ ته پوره تَوَجُّه سره د اول نه تر آخره پورے د بيان اوريدو د سعادت توفيق را عطا کړي.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د ميلمستيا ډير ښکلے انداز

د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه کتاب **"صحابه کرام کا عشقِ رسول"** صفحه 53 کښې دي چه يوه ورځ حضرت سيدنا عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

وَسَلَّم په خدمت مبارك كښې عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د خپلو دوستانو سره زما كور ته تشريف راوړئ او څه چه تيار وي هغه تناول كړئ [يعني اوخورئ]. نبي كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دعوت قبول كړو. كله چه خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره د حضرت سيدنا عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه كور طرف ته روان شو نو حضرت سيدنا عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه نبي كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسے وروسته وروسته روان شو او د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قدمونه مبارك ئے شميرل، خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے عثمانه! زما قدمونه ولے شميرے؟ حضرت سيدنا عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما مور و پلار دِ په تاسو قربان وي! زه غواړم چه ستاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعظيم و توقير په وجه ستاسو د هر هر قدم په بدله كښې يو يو غلام آزاد كړم. چنانچه د حضرت سيدنا عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه د كوره پورې چه حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څومره قدمونه اخستي وو هغوئي هغه همره غلامان آزاد كړل. (جامع المعجزات، ص۲۵۷ملخصاً)
(صحابہ کرام کا عشقِ رسول، ص۵۳تا۵۴)

مجھ کو دُنیا کی دولت نہ زر چاہئے
شاہِ کوثر کی میٹھی نظر چاہئے
رات دن عِشق میں تیرے تڑپا کروں
یا نبی ایسا سوزِ جگر چاہئے
(وسائلِ بخشش مرمم، ص۵۱۳)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو او خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چه! حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه د رسولِ كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عشق كښې د هغوئي په هر هر قدم مبارك باندې يو يو

غلام آزاد کړو. د دې نه معلومه شوه چه د حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ په زړه کښې د عشقِ رسول او محبتِ رسول شمع روښانه وه، د هغوئي په زړه کښې د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسې عِشق و مَحَبَّت وو چه هغوئي ته د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ذات نه زيات بل يو څيز هُم عزيز نه وو.

الله پاك پخپله قرآنِ پاك کښې د خپل خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تعظيم حُکم ورکړے دے، چنانچه

پاره 26 سُوْرَۃُ الفَتْح آيت نمبر 9 کښې **الله** پاك اِرشاد فرمائي:

**لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ تُعَزِّرُوْهُ وَ تُوَقِّرُوْهُ ؕ وَ تُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ﴿۹﴾** (پ۲۶، فتح:۹)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: چه اے خلقو تاسو په الله او د هغه په رسول ايمان راوړئ او د رسول تعظيم و توقِير اوکړئ او سحر او ماښام د الله پاکي وائې.

د دې بيان شوي آيت نه لاندې **تفسيرِ صِرَاطُ الْجِنان** کښې ليکي: د دې آيت نه معلومه شوه چه د الله کريم په بارګاه کښې د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **تعظيم و توقِير** انتهائي مطلوب دے او بے انتها اَهَمِّيَّت لري ځکه چه دلته **الله** پاك خپله پاکي بيانولو باندې د خپل حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعظيم و توقير مُقَدَّم کړے [يعني مخکښې ئې بيان کړے] دے.

او څوك چه د ايمان راوړو نه پس د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **تعظيم** کوي **الله** پاك د هغوئي د کاميابئ او مُراد ته درسيدو اعلان کوي او اِرشاد فرمائي:

**فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَ عَزَّرُوْهُ وَ نَصَرُوْهُ**
**وَ اتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْۤ اُنْزِلَ مَعَهٗۤ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ۔** (پ۹، اعراف:۱۵۷)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: نو هغه خلق چه په دې نبي ايمان راوړي او تعظيم ئې اوکړي او مدد ئې اوکړي او د هغه نُور تابعداري اوکړي کوم چه هغه سره نازل کړے شو نو هُم هغه خلق کاميابۍ ته رسيدونکي دي. (تفسيرصراط الجنان، پ۲۶، الفتح، تحت الآية: ۹،۴۷/۹)

د دې حکايت نه دا هُم معلومه شوه چه صحابۂ کرام علیہم الرضوان اُمَّت ته تعظيمِ مُصطَفیٰ ښودونکي دي، بلکه تر قيامته پورې چه د تعظيمِ مُصطَفیٰ څومره طريقے وي او د شريعت سره ډغره نه خوري، هغه خوښے کړے شوي دي، لکه څنګه چه حضرتِ سَيِّدُنا اِمام مالِك رحمۃ اللہ علیہ د تعظيمِ مُصطَفیٰ د پاره په مدينۂ مُنَوَّره کښې په ځاروي سوَرلي اونکړه.

په دې کښې شك نشته چه چا ته حقيقي عشق نصيب شي نو هغه ته د عِشق د اِظهار طريقے هم يادې شي. او د صحابه کرامو علیہم الرضوان نه بل غټ عاشقِ رسول څوك کيدے شي؟ هر صحابي په خپل ځائے د اُلفتِ رسول او محبتِ رسول روښانه ستورے وو. د عشقِ رسول چه کوم انداز هُغه مُقَدَّسو هستيانو پيش کړے دے د هغے هيڅ مثال نشته. هُم دا وجه ده چه کوم شان او عظمت هغوئي ته نصيب شوے دے هغه يو غيرِ صحابي ته هُم نه شي نصيب کيدے. زمونږ د خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صلی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلم فرمانِ عاليشان دے: ستاسو د غر همره سره زر خيرات کول زما د يو صحابي د پينځه پاوه وربشو خيرات کولو بلکه د هغے د نيمې برابر هم نه شي کيدے.

(بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب قول النبی لو کنت متخذا خليلا، ۵۲۲/۲، حديث: ۳۶۷۳ملخصاً)

## د صحابه کرامو علیہم الرضوان خدمات

**مُحترمو او خوږو اسلامي ورونړو!** واقعي د صحابه کرامو علیہم الرضوان شان داسې بيمثاله دے چه څوك د هغوئي مقام او مرتبے ته نه شي رسيدے. ❀ **دا هُغه هستيانے دي** چه د

ټولونه وروميے ئې اسلام قبول کړے وو. ❁ **دا هغه هستيانے دي** چه د ټولو نه وروميے ئې د خوږ آقا کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دعوت باندے **لَبَّيْك** وئيلے وو. ❁ **دا هغه هستيانے دي** چه هغوئي د نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار کړے وو او د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معجزات ئے په خپلو سترګو ليدلي وو. ❁ **دا هغه هستيانے دي** چه په اُمَّت کښې د ټولو نه افضل او اعلیٰ دي . ❁ **دا هغه هستيانے دي** د چه الله تعالیٰ د هغوئي ښکلې صفات په قرآنِ کريم کښې بيان کړي دي. ❁ **دا هغه هستيانے دي** چه په احاديثِ پاك کښې ئې شان بيان شوے دے. ❁ **دا هغه هستيانے دي** چه الله پاك د خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ملګرتيا د پاره مقرر کړي دي. ❁ **دا هغه هستيانے دي** چا ته چه د ټولو نه مخکښې د تبليغ اسلام سعادت نصيب شوے دے. ❁ **دا هغه هستيانے دي** چه د دِينِ اسلام د ترقئ او خوريدو د پاره ئې د کافرو ظلم او ستم برداشت کړے دے. ❁ **دا هغه هستيانے دي** چه د هغوئي په ډيرو کوششونو د اسلام بيراغ په ټوله دنيا کښې اوچت شوے دے ❁ **دا هغه هستيانے دي** چه د دِين د تبليغ د پاره ئې خپل مال ځان او عزت قربان کړے وو. ❁ **دا هغه هستيانے دي** چه د اسلام د شروع په مشکلو حالاتو کښې ئې لوږه تَنده برداشت کړي وه، په خيټه باندې ئے کاڼړي تړلي وو ❁ **دا هغه هستيانے دي** چه د اسلام بيراغ اوچت ساتلو د پاره ئې د خپلو نِزدے خپلوانو دُښمني په سر اخستي وه او د هغوئي خلاف ئې جهاد کړے وو. ☆ **دا هغه هستيانے دي** چه د هغوئي د ډيرو محنتونو او هميشه قربانو نتيجه ده چه نن مونږه د الله پاك او د هغه د خوږ رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم اخستونکي يو. لِهٰذا مونږ له پکار دي چه مونږه د حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه او ټولو صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره محبت کوو او د هغوئي محبت خپل اولاد ته هم زده کړو.

صحابہ ہیں تاجِ رِسالت کے لشکر          رسولِ خُدا تاجدارِ صحابہ
اِنہیں میں ہیں صِدیق و فاروق و عثماں          اِنہیں میں علی شہسوارِ صحابہ

پسِ مَرگ اے اعظمی! یہ دُعا ہے بنوں میں غُبارِ مزارِ صحابہ

(کراماتِ صحابہ، ص۳۰)

هر صحابيِ نبي ***** جَنَّتي جَنَّتي هرصحابيِ نبي *****جَنَّتي جَنَّتي

څلور ياران د نبي***** جَنَّتي جَنَّتي ابوبکر و عمر***** جَنَّتي جَنَّتي

عثمانِ غني ***** جَنَّتي جَنَّتي فاطمه او علي***** جَنَّتي جَنَّتي

حسن او حُسين هم***** جَنَّتي جَنَّتي هرصحابيِ نبي***** جَنَّتي جَنَّتي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ شان

**خوږو اسلامي ورونړو:** مونږه د حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د سيرت مُتَعَلِّق بيان اوريدلو، د حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د خدماتو اندازه څوك لګولے شي، د دِين د پاره چه کومې قربانۍ هغوئي ورکړي دي هغه بس د هغوئي حِصَّه وه. ❁ حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د هغه خوش نصيبو صحابه کرامو نه دے چا چه د اسلام په شروع شروع کښې ايمان راوړے وو. ❁ حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ دوه ځله د الله په لار کښې د هجرت کولو شرف حاصل کړے وو. ❁ حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ هغه شخصيت دے چا ته چه د جامِعُ القرآن شرف حاصل شوے دے. ❁ حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ دواړو قبلو طرف ته لمونځ ادا کړے وو. ❁ د حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ نوم په هغه صحابه کرامو کښې دے څوك چه د خپلوانو له طرفه د ډيرو زياتو تکليفونو تيرولو باوجود په اِيمان باندے ثابت قدم پاتي شوي وو. ❁ حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ ته دا شَرف حاصل شوے وو چه د خوږ

آقا نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه شهزادګۍ پرله پسے د هغوئي په نکاح کښې راغلي وے. ☆ د حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ سيرت هم بے مثاله وو او صورت ئې هم بے مثاله وو. ❀ د حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ شمير د الله پاك په هغه مُـقَرَّبو بندګانو کښې کيږي چه هغوئي به ټوله شپه په عبادت او بندګۍ کښې تيروله. ❀ حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ په هغه خلقو کښې شامل وو چه هر وخت به خوفِ خدا او تقوٰی و پرهيزګارۍ کښې اوسيدلو. ❀ حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ داسې تَـحَمُّل مِزاجه وو چه پخپله ئې شهادت قبول کړو خو د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښار مبارك ئې د خپل طرفه په وينه ککړولو نه ځان اوساتلو. ❀ حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ ډير زيات سخي وو. ❀ حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ ډيره عاجزي او انکساري کوونکے بزرګ وو.

## دحضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ اتباعِ رسول

**محترمو او خوږو اسلامي ورونړو:** د نورو صفاتو سره سره حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ د رسول کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تابعدارۍ کښې ډير بے مثاله وو. د يخنۍ او ګرمۍ پرواه کولو بغير به ئې د خپلو اقوالو او افعالو په ذريعه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سُنَّتو ډير ډير عمل کولو. راځئ چه د حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ د رَسُولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فَرامينو او سنتو سره د محبت درې واقعات واورو. چنانچه

يوه ورځ عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د جُمات په دروازه کښې کښيناستلو او د چيلۍ [يعني بيزے] د مخکښنۍ ښپے غوښه ئې را اوغوښتله او اوئې خوړله او د تازه اودس کولو نه بغير ئې لـمونځ ادا کړو بيا ئې اوفرمائيل چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هُم په هُم دې ځائے ناست شوے وو او هُم دا ئې خوړلي وه او هُم داسې ئې کړي وو. (مُسندِ اِمام اَحمد ج۱، ص۱۳۷، حديث۴۴۱)

حضرتِ سيّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ يوه ورځ اودس کولو او مُسکے شو! خلقو [د مُسکي کيدو] د وجهې تپوس اوکړو نو اوئې فرمائيل: ما يو ځل سرکارِ نامدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هُم دې ځائے باندې د اودس کولو نه پس په مُسکي کيدو ليدلے وو.

(اَیضاً ص۱۳۰، حدیث ۴۱۵ مُلَخَّصاً)

## په سخته يخنۍ کښې د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّم په فرمان مبارك باندے عمل

**اَمیرُ الْمُؤمِنِین** حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ يو ځل د يخنۍ په شپه کښې د لمونځ کولو اراده اوکړه نو خپل غلام حضرت حُمران رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه ئې د اوداسه د پاره اوبه اوغوښتلې. غلام اوبه وړاندې کړے، هغوئي په هغے اودس کول شروع کړلو نو غلام عرض اوکړو: الله پاك دِ ستاسو حفاظت اوفرمائي، تاسو اودس کوئ او شپه ډيره سخته يخه ده. حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ په جواب کښې اوفرمائيل: ما د نبي کريم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چه کوم بنده کامِل اودس اوکړي، الله پاك د هغه تير شوي او راروان ګناهونه بخښي. (مسند البزار، مسند عثمان بن عفان، ۲/۷۵، الحدیث: ۴۲۲)

تیری سُنّتوں پہ چل کر ،مری رُوح جب نکل کر
چلے تُو گلے لگانا مدنی مدینے والے
ملے سُنّتوں کا جذبہ مِرے بھائی چھوڑیں مولیٰ
سبھی داڑھیاں منڈانا مدنی مدینے والے
مری آنیوالی نسلیں ترے عشق ہی میں مچلیں
اُنہیں نیک تُو بنانا مدنی مدینے والے

(وسائلِ بخشش مرمم، ص ۴۲۸-۴۲۹)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## احاديثِ کريمه او د عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ شان مبارك

**خوږو اسلامي ورونړو**: د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تابعداري کولو ډېر برکتونه دي.کاش چه! د حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ په خاطر مونږه هم د خوږ آقا محمد مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کامل اِتِّباع کوونکي جوړ شو.

عام طور يو غلام د خپل مالك د مهربانو او د هغه د رحم و کرم په وجه د هغه ستائنه [يعني صِفَتونه] کوي. خو کمال دا دے چه کله مالك هم د خپل غلام صِفَتونه بيان کړي. حضرت سَيِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ هم په هغه صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان کښې شامل دے چه د هغوئي په حق کښې حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشادات فرمائيلي دي، کله هغوئي رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ ته د دربارِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د جَنَّت زيرے ورکړے شوے دے، او کله خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته په جَنَّت کښې خپل رفيق وئيلے دے، کله ئے هغوئي ته د کامل حيا سند ورکړے دے. نو کله ئې د هغوئي په شفاعت د خلقو جَنَّت ته د تللو اعلان کړے دے. نبي اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چه د هغوئي په شان کښې کوم د ستائنے کلمات ارشاد فرمائيلي دي. راځئ چه په هغے کښې پينځه فَرامِينِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورو: چنانچه

1. خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو:"عثمان زما نه دے او زه د عثمان نه يم." (ابن عساکر،عثمان بن عفان،۳۹/۱۰۲،حديث:۷۸۷۸)

2. خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو:"په جَنَّت کښې به د هر چا يو رفيق وي او زما رفيق به عثمان بن عفّان وي." (ابن عساکر، عثمان بن عفان، ۳۹/۱۰۴، حديث: ۷۸۸۱)

3. حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو:"په ورځ د قيامت به د عثمان په شفاعت اويا زره داسې کسان بے حسابه جنت ته داخل شي په کومو چه جَهنَّم واجب شوے وي." (ابن عساکر، عثمان بن عفان، ۱۲۲/۳۹، حدیث:۷۹۱۶)

4. خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو:"زما په اُمَّت کښې د ټولو نه زيات د شرم و حيا نمونه او زيات عزت او کرم والا عثمان بن عفان دے."

(مسند الفردوس، ۲۵۰/۱، حدیث: ۱۷۹۰)

5. خوږ مَدَني آقا ارشاد اوفرمائيلو:"زما په اُمَّت کښې د ټولو نه زيات حياکوونکے انسان عثمان بن عفان دے. (مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، باب حبر هذه الامة عبد الله بن عباس، ۶۸۹/۴، الحدیث:۶۳۳۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ عبادات

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د امير المُؤمنين حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہ تعالٰی عَنْہ په باره کښې بيان اوريدلو. د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ د پاك سيرت يو روښانه ډېره دا هم ده چه هغوئي به ټوله شپه په سجده او قيام کښې تيروله، کله به د هغوئي شپے په تلاوتِ قرآن کښې تيريدلې او کله به د سجدو او قيام په حالت کښې. راځئ چه د رَغبت حاصلولو د پاره د حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ د عبادت او تلاوت د شوق واقعات واورو:

1. حضرت سَیِّدُنا زُبير بن عبدالله رحمۃُ اللّٰہِ تعالٰی علیہ نه روايت دے چه اَمِیْرُالْمُؤمِنِین حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ به هميشه روژے نيولې او د شپے په ورومبۍ حصه کښې به ئې لږ ارام کولو بيا به ئې ټوله شپه په عبادت کښې تيروله.

(مصنف ابن ابی شیبة، کتاب صلاة التطوع۔۔۔الخ، باب من کان یامر...الخ، ۱۷۳/۲، حدیث:۶)

2. کله چه اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ شهید کړے شو نو د هغوئي بي بي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا قاتلانو ته اوفرمائیل:"تاسو هغه کس شهید کړو چا به چه ټوله شپه عبادت کولو او په یو رکعت کښې به ئې قرآن ختمولو."

(الزھد للامام احمد، زھد عثمان بن عفان، ص ۱۵۳، حدیث: ٦٧٣)

3. حضرت سَیِّدُنا عبدالرحمٰن تیمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ فرمائي: "یو ځل زما په مقام ابراهیم کښې شپه راغله، ما د ماسخُتن لـمونځ ادا کړو او مقامِ ابراهیم ته را اورسیدم، تر دې چه زه په هغے کښې اودریدم نو په دے دوران کښې یو کس زما د اوګو په مینځ کښې لاس کیښودلو. ما چه اوکتل نو اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ وو. لږ ساعت پس هغوئي سُوْرَۃُ الْفَاتِحَہ نه د قرآن کریم تلاوت شروع کړو تر دے چه پورا قرآن کریم ئے ختم کړلو. (الزھد لابن المبارک، باب فضل ذکر اللہ، ص ۴۵۲، حدیث: ۱۲۷٦ ملخصاً)

(وسائل بخشش مرمم، ص ۵۸۴)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## وخت نه لرو!

**خوږو او محترمو اسلامی ورونړو!** غور اوکړئ ! د عبادت داسے معمولات د چا دي؟ امیرالمُؤمنین حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ به د دومره غټې مرتبے [او ذِمَّه دارئ] باوجود اکثر عبادت کولو، تلاوت به ئې کولو او د ډیرو ډیرو نیکو اعمالو کوشش به ئې کولو. او بل طرف ته زمونږه دا حال دے چه زمونږه ډیر زیات وخت بےکاره کارونو کښې بربادیږي، زمونږه شپه او ورځ په غفلت کښې تیریږي، مونږ سره نه د عبادت د پاره وخت شته او نه د تلاوتِ قرآن د پاره. نه مونږه د نیکئ د دعوت ورکولو د پاره وخت اوباسو او نه

مونږه د نيکۍ د دعوت اوريدلو سعادت حاصلوو. مونږه د مدني قافلے مسافر په دې وجه نه جوړيږو چه وخت نه لرو. مونږه د درس و بيان کولو او اوريدلو د سعادت نه هم په دې وجه محرومه يو چه وخت نه لرو، مونږه فِکرِ مدينه هم په دے وجه نه کوو چه وخت نه لرو، مونږه هفته وارو اجتماعاتو کښې ځکه شرکت نه کوو چه وخت نه لرو، مونږه هفته واره مدني مذاکره کښې شرکت کولو نه هم په دے وجه محرومه يو چه وخت نه لرو. افسوس! يو ګڼړ شمير خلق خو لـمونځونه هم په دې وجه قضا کوي چه وخت نه لري. يو ګڼړ شمير خلق خو فرض علوم هُم په دے وجه نه حاصلوي چه وخت نه لري. يو ګڼړ شمير خلق خو د دِين ضروري مسائلو نه هم خبر نه دي ځکه چه وخت نه لري. يو ګڼړ شمير خلق د دِين د بنيادي او ضروري معلوماتو نه هُم بے خبره دي ځکه چه وخت نه لري. الغرض! که چا ته د دِين زده کولو، د خپل آخرت ښائسته کولو او د يو نيك کار کولو د پاره اُووائې نو يو ګڼړ شمير خلق داسې دي چه هم دا خبره کوي چه وخت نه لرو. آو د دُنياوي کارونو د پاره خو مونږ سره ډير ډير وخت دے، څو څو ګينټے ئې د اخبارونو په کتلو او لوستلو او خبرونه اوريدلو کښې تيرې شي خو هيڅ پرواه ئې نه وي. د شپے ناوخته پورے په هوټلو، بازارونو او لارو کوڅو کښې کښيناستل د ځومره خلقو عادت جوړ شوے دے خو هډو پرواه ئې نه وي، ډير خلق خپل قيمتي وختونه په لډو، تاش، ويډيو ګيمز کولو کښې بربادوي او هډو پرواه نه لري. ګڼړ شمير خلق ټوله ټوله شپه په خپل موبائل او انټرنيټ کښې داسې مشغول شي چه د وخت ورته هډو احساس نه کيږي او هډو څه پرواه ئې نه وي. ډير خلق داسې دي چه د کار نه چوټي کول خو پريږده، يو څو مِنټه ناوخته کول هُم نه برداشت کوي خو په فرضو لـمونځونو، د جَمعے [يعني اِمامتۍ] په لـمانځه، نفلونو او تلاوتِ قرآن کښې ډيره سستي کوي. کاش چه مونږه دُنيا ته د خپلو راتلو په مقصد پوهه شوے، کاش چه! د ځنکدن سختے مو يادې ساتلے، کاش چه! دا مو

ياد لرلے چه زه به يوه ورځ د **الله** پاك به بارګاه کښې پيش کيږم.

راځئ چه! په خپلو زړونو کښې د عبادت او تلاوت شوق بيدارولو د پاره دوه فرامينِ مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورو او د عبادت او تلاوت کولو عادت جوړ کړو، چنانچه

(1) خوږ مدني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي چه الله پاك ارشاد فرمائي: "اے انسانه! ته زما د عبادت د پاره فارغه شه، زه به ستا سينه د غِنا [يعني مالدارئ] نه ډکه کړم او ستا د محتاجئ دروازه به بند کړم او که ته داسے اونکړے نو زه به ستا دواړه لاسونه د مصرتوفياتو نه ډك کړم او ستا د محتاجئ دروازه به نه بندووم." (ترمذی، کتاب صفة القيامة، باب ۳۰، ۲۱۱/۴، حديث: ۲۴۷۴)

(2) ارشاد فرمائي: "بے شکه په خلقو کښې څه الله والا دي." صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه کوم خلق دي؟ اوئے فرمائيل : قرآن لوستونکي چه هُم دا خلق الله والا دي او په خواصو [يعني خاصو خلقو] کښې شامل دي. (ابن ماجه، کتاب السنة، باب فضل من تعلم القرآن وعلمه، ۱/۱۴۰، حديث: ۲۱۵)

دے شوقِ تلاوت دے ذوقِ عبادت رہوں باوُضو میں سدا یاالٰہی

(وسائلِ بخشش مُرمّم، ص۱۰۲)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دولس مدني کارونو کښې يو مدني کار "مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان"

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د فضولياتو نه بچ کيدلو او خپل ځان په نيکو کښې مشغولولو د پاره د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي سره تړون اوکړئ او د ذيلي حلقے دولس مدني کارونو کښې حصه واخلئ. د ذيلي حلقے دولسو مدني کارونو کښې

هره ورځ يو مدني کار "**مدرسةُ المَدينه بالغان**" کښې شريك کيدل هم دي، اَلْحَمْدُلِلّٰه مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان کښې د شريك کيدلو ډيرې فائدے او برکتونه دي. ❀مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان د قرآن مجيد درست لوستلو يوه ذريعه ده. ❀مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان د اوداسه، لـمانځه او غسل د بعضو ضروري احکامو زده کولو بهترينه ذريعه ده. ❀مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان کښې د حاضريدلو په برکت ښه صحبت نصيب کيږي. ❀ د مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان په برکت د قرآنِ کريم لوستلو سعادت نصيب کيږي. ❀ د مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان په برکت د دِين دولت نصيب کيږي. ❀ د مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان په برکت مدني انعاماتو باندې د عمل کولو جذبه نصيب کيږي. راځئ چه! مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان کښې د لوستلو په برکت مشتمِل يو مدني سپرلے واورو چه زړه مو خوشحاله شي چنانچه

## د مدرسةُ المَدينه بالغان برکت

د باب المَدينه (کراچئ) اوسيدونکي يو اسلامي ورور به مدني ماحول سره د تړون نه مخکښې د فلمونو او ډرامو کتلو، د سندرو اوريدلو او د بد نظرئ عادت لرلو، د لمُونځُونو پابندي ئې هُم نه کوله، اِتِّفاقاً يوځل د هغه ملاقات د يو مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي سره اوشو، هغه پرې انفرادي کوشش اوکړو او په مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان کښې د شريك کيدلو دعوت ئې ورکړو، هغه دعوت قبول کړو او په مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان کښې ئې سبق لوستل شروع کړو. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د مَدرَسةُ الْمَدينه بالغان په برکت ئې د سنتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د شريك کيدو معمول جوړ شو، د اميرِ اهلسنت مريد هم شو، لمُونځ ګزاره او په جُمات کښې درس کوونکے جوړ شو. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ د فلمونو ډرامو، سندرو او باجو او د بدنظرئ وغيره ګناهونه ئې پريښودل او د خپل کور په کسانو ئې هم انفرادي کوشش شروع کړو او دغسې د هغوئي د لمُونځ ګزاره جوړولو کوششونو کښې مصروف دے.

سَنور جائے گی آخِرت اِنْ شَآءَ الله تم اپنائے رکھو سَدا مَدَنی ماحول
تمہیں لُطف آجائے گا زندگی کا قریب آکے دیکھو ذرا مَدَنی ماحول

(وسائلِ بخشش مرمم، ص۶۴۶)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ کرامت

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو:** مونږه د **اَمِیْرُالْمُؤمِنِین** حضرت سَیِّدُنا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ د سيرت او کِردار په په باره کښې بيان اوريدلو، د هغوئي د ذات مبارَکه نه به کله کله داسې کرامتونه ظاهريدل چه بنده ورته حيران پاتې شي. راځئ چه د هغوئي يو کرامت واورو:

يو ځل يو کس په لار کښې يوې ښځې ته په غَلَط نظر اوکتل بيا چه کله هغه د **اميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خِدمت کښ حاضِر شو نو حضرتِ **اميرُ الْمُؤمِنِين** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ډير زيات د جَلال [يعني غُصَّے] په انداز کښې اوفرمائيل: تاسو په داسې حالت کښ زما مخې ته راځئ چه ستاسو په سترګو کښې د بدکارئ اَثرات وي! هغه کس اووئيل چه آيا د **رَسُوْلُ اللّٰه** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس په تاسو وحي نازِليدل شروع شوي دي؟ تاسو ته څنګه معلومه شوه چه زما په سترګو کښې د بدکارئ اثرات دي؟ هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اِرشاد اوفرمائيلو چه "په ما وَحِی خو نه نازليږي خو ما چه څه اووئيل، هغه بالکل رښتيا خبره ده. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ **اللّٰه** تَبَارَکَ وَتَعَالٰی ما ته داسې فِراست (يعني نُوراني بصيرت) عطا کړے دے چه د هغے په ذريعه د خلقو د زړونو د حالاتو او خيالاتو نه خبريږم." (طبقات الشافعيه الکبرٰی للسبکی، ۲/۳۲۷ملخصاً)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو:** په دې کښې شك نشته چه الله پاك خپلو نيکو بندګانو

ته داسې صلاحيتونه عطا کوي چه عامو خلقو ته نه نصيب کيږي، د هغه صلاحيتونو په وجه د هغوئي نه داسې کارونه ظاهريږي چه په عقل کښې نه راځي، او هغے ته کرامت وائي. د کرامت تعريف دا دے چه د الله پاك د وَلي نه څه خلافِ عادت کار ظاهر شي، هغے ته کرامت وائي اے[1] . د خلافِ عادت کار نه مراد هغه کار دے چه عام طور د هر انسان نه نه ظاهريږي مثلاً په هوا کښې اَلوَتل، په اوبو د پاسه ګرځيدل وغيره نور داسې کارونه ځکه چه عام طور نه څوك په هوا کښې اَلوَتے شي او نه په اوبو د پاسه ګرځيدے شي.[2] ياد ساتئ چه د کرامت انکار کوونکے ګمراه دے.[3]

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو:** مونږه د کرامت مُتَعَلِّق خبره واوريدله، **اَلْحَمْدُلِلّٰهِ** د **ذُو الْحِجَّةِالْحرام** د رحمتونو ډکه مياشت جاري ده د دې مياشتے نولَّسم تاريخ د خليفهٔ اعلٰی حضرت ،صدر الافاضل علامه مولانا سيد نعيمُ الدين مراد آبادي رَحْمَةُاللهِ تعالٰی عَلَيْه د عُرس ورځ ده. حضرت صدر الافاضل رَحْمَةُاللهِ تعالٰی عَلَيْه ډير لوئي عالم، مفتي او د الله پاك ولي وو. راځئ چه اول د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تعالٰی عَلَيْه يو کرامت واورو، بيا به د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تعالٰی عَلَيْه تعارُف هم واورو.

## د حضرت صدر الافاضل رَحْمَةُاللهِ تعالٰی عَلَيْه کرامت:

چنانچه **حضرتِ** مولانا منظور احمد صاحب ګهوسوي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د سترګو ليدلے حال بيانوي چه د صاحِبِ خزائِنُ الْعِرفان **صدرُ الافاضِل** عَلّامه مولانا سيِّد مُحَمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه دا هره ورځ معمول وو چه د سحر لمونځ به ئې د محلّے په

---

[1] .......بہارِ شریعت، حصہ اول،۱/۵۸بتغیر قلیل

[2] ....... فیضانِ مزاراتِ اولیاء، ص۴۶

[3] .......بہارِ شریعت، حصہ اول،۱/۲۶۹

جُمات کښې د جَمعے سره ادا کولو، د هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه جُمات ته د تللو نه مخکښې به څلور فُټه يو سَمَوار (د تانبے يا پيتلو هغه لوښے چه د هغے په لاندې حِصّه کښې اور بليږي او پاس پرې اوبه توديږي يا پرې چائے پخيږي په هغے) کښې د چائے سامان ور واچولے شو او اور به ورپسے بل کړے شو. هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه به چه کله بيرته د جُمات نه تشريف راوړو نو چائے به تيار شوے وو. هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه به په بَيټهك کښې تشريف فرما شو او په لږ ساعت کښې به ئې د عقيدتمندو ښه ګڼړه جوړه شوه. عام طور به د 50 نه 200 پورې کسانو ګڼړه وه او کله کله خو به د راتلونکو دومره ګڼړه شوه چه په بيټهك او بَهر برنډه کښې به بالکل ځائے پاتې نه شو. هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه به چه څنګه کښيناستلو نو خادِمانو به د چائے نه ډك يو کپ په پرچ کښې کيښودو او يو به ئې ورسره بِسکِټ کيښودو او د هغوئي په خِدمت کښې به ئې وړاندې کړلو. هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه به هغه پيالئ په خپل لاس مبارك کښې را واخسته او خپل ښي طرف ته ناست کس ته به ئې وړاندې کړله، دغسے به ئې پينځه شپږ پيالئ پخپله تقسيم کړے او باقي ټولو کسانو باندې به خادِمانو هم دغسې يوه پيالئ چائے او بسکټ تقسيمول. يوه پيالئ چائے سره به يو بِسکټ هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه هم اوخوړلو. لکه دا به هغوئي د سحر ناشته وه.

**حضرتِ** مولانا منظور احمد صاحب رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه په يقين سره فرمائي چه که حاضِر خلق کم وي او که زيات، ما دا خبره خاص طور نوټ کړي ده چه هُم هغه يو **سَمَوار** چائے هره ورځ د راتلونکو ټولو کسانو د پاره کافي وي. کله هُم داسې نه دي شوي چه د حاضرو خلقو د زياتوالي په وجه د نور انتِظام کولو ضرورت پيښ شوے وي. د حضرت مولانا منظور احمد صاحب رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه دا پاس ذِکر کړے شوے بيان دے خبرې ته

واضِحه اِشاره ورکوي چه دا د حضرت **صدرُ الافاضِل** رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ د هرې ورځې د معمولاتو په کراماتو کښې يو ډير زيات کريمانه کرامت وو. (تاریخِ اسلام کی عظیم شخصیت صدر الافاضل، ص۳۳۳تا۳۳۴، ملخصًا، از فیضانِ سنت، ص۳۹۸)

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو** واوريدل ، دا د حضرت صدر الافاضل د لاسونو برکت او کرامت وو چه يو ځل پوخ شوے چائے به د ټولو خلقو د پاره پوره کيدلو. د هغوئي عرس هم په دے مياشت کښې دے. راځئ چه د هغوئي د سيرت په باره کښې يو څو مدني ګلونه د اوريدلو سعادت حاصل کړو:

## د سيرتِ مبارَکه يو څو پلوشے:

صدرُ الاَفاضِل حضرت علامه مولانا سيد محمد نعيم الدين مراد آبادي رَحۡمَۃُاللّٰہِتعالٰیعَلَیۡہ په **۲۱ صفر المظفر۱۳۰۰**ھ بمطابق يکم جنوري1883ء د ګل په ورځ د هِند په ښار مرادآباد کښې پيدا شوے وو. د هغوئي نوم **محمد نعيمُ الدين** ايښودے شوے وو. د هغوئی د والد محترم حضرت مولانا سيد محمد معين الدين رَحۡمَۃُاللّٰہِتعالٰیعَلَیۡہ يو څو بچي د قرآنِ کريم حافظ کيدلو نه پس وفات شوي وو، صدر الافاضل رَحۡمَۃُاللّٰہِتعالٰیعَلَیۡہ چه پيدا شو نو د هغوئي والدِ محترم منښته کړي وه چه که چرے الله پاك زما دے ځوئ ته ژوند ورکړو نو د دِين د خدمت د پاره به ئې وقف کووم. او بيا هغوئي هُم داسے اوکړلو [يعني د دِين د پاره ئې وقف کړلو]. حضرت صدر الافاضل رَحۡمَۃُاللّٰہِتعالٰیعَلَیۡہ ډير ميلمستيا کوونکے او سخي وو. د ډير لوئي عالم کيدلو باوجود د عاجزئ او انکسارئ نمونه وو. اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِتعالٰیعَلَیۡہ ته [په خپلو

مُريدانو کښې هغوئي] ډير نِزدے وو. اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تعالٰی عَلَيْه هغوئي ته خلافت هم وركړے وو.

## د رخصتيدلو وخت

د حضرت مولانا مفتي سيد غلام معين الدين نعيمي رَحْمَةُ اللهِ تعالٰی عَلَيْه بيان دے يوولس بجے وے په كوټه كښې زما او د شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ تعالٰی عَلَيْه نه سِوا بل څوك نه وو، لږ ساعت ئې ما سره خبرے اوكړے، د هغے نه پس خاموشه شو، لږ ساعت پس ئې اوفرمائيل زما لاس زور كړه، چنانچه زه كښيناسم او لاس او ملا مې ورله زور كول شروع كړل، ما اوليدل چه شونډې ئې خوزيدلې او په مخ ئې ډيره خوَله راغلې وه، ما ورله په رومال د مخ خوَله اُوچه كړه، هغوئي ستر‌ګے بره كړې او زما طرف ته ئې اوكتل، بيا ئې په اوچت اواز كلمه طيبه: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه لوستل شروع كړه، او په كلمه طيبه لوستلو لوستلو كښې په ١٩ ذُوالْحِجَّةُ الْحَرَام ١٣٦٧ھ د دے دُنيا نه رخصت شو د هغوئي مزار مبارك د جامعه نعيميه (مراد آباد هند) د جمات په ښې ګوټ كښې دے. د حضرت صدر الافاضل رَحْمَةُ اللهِ تعالٰی عَلَيْه په باره كښې نور معلوماتو حاصلولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينَه رساله "تذکرۂ صدرالافاضل" هديةً حاصله كړئ او اولولئ.

د هُم دې مياشتې په څوارلسم [14] تاريخ د امير اهلسنت د والدِ محترم حاجي عبد الرحمٰن قادري رَحْمَةُ اللهِ تعالٰی عَلَيْه د وفات ورځ هم ده. هغوئي ته هُم ډير ډير ثوابونه اوبخښئ. الله پاك دِ زمونږه په ټولو بزر‌ګانو باندے رحمت اوفرمائي. او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حسابه بخښنه اوكړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## مجلس "المَدينه لائبريري"

خورو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د فيضانِ عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ نه برکتونه حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره تړون اوکړئ او ښه ډير ډير د نيکئ دعوت خور کړئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ دعوتِ اسلامی دا وخت د 107 شعبه جاتو په ذريعه ټوله دنيا کښې د دين پيغام عام کولو کښې مصروفِ عمل دے، هُم دې شعبه جاتو کښې يوه شعبه په نوم د "**مجلس المَدينه لائبريري**" هم ده. د دې **مجلس** تحت مدني مراکز **فيضانِ مدينه** (د عين جمات نه علاوه په يو ځائے) کښې د "**المَدينه لائبريري**" په نوم يوه اسلامي کتب خانه قائمه کړے شي او په هغے کښې مخصوص کړو وختونو کښې د مطالَعے د پاره په خوشګوار ماحول کښې، د آډيو ويډيو بيانونو او د مدني مذاکرے اوريدلو او د مدني چينل کتلو د پاره د کمپيوټرو وغيره فراهم کولو کوشش کيږي.

په " المَدينه لائبريري" کښې د امير اهلسنت او المَدينةُ العلميه ليکلي شوي مختلفو موضوعاتو باندے مشتمل کتابونه او رسالے ايښودے شي. الله پاك دِ "**مجلس المَدينه لائبريري**" ته نوره ترقي ورکړي.　　اٰمِيۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللہُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں　　اے دعوتِ اسلامی تری دھوم مچی ہے

(وسائلِ بخشش مُرمَّم، ص۳۱۵)

الله دِ کرم اوکړي په تا داسې په جهان کښې　　اے دعوتِ اسلامي ته دِ عام شې په هر ځائے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به‌جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ص ۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا**

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د مسواك سنتونه او آداب

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د شیخِ طریقت امیر اهلسنت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري د رسالے "163 مدني ګلونه" نه د مسواك سنتونه او آداب اورو: مخکښې **دوه فرامینِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورئ: ❀ دوه رکعاته د مسواک [د اوداسه] سره کول د مِسواک نه بغیر د 70 رکعاتو نه افضل دي (التَّرغِیب والتَّرهِیب ج 1 ص 102 حدیث18) ❀ د مِسواک اِستعمال د ځان د پاره لازِم کړئ ځکه چه په دي کښې د خُلے صفائي (ده او دا د) رب تعالیٰ د رضاسبب دے[1] ❀ حضرتِ سیِّدنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُما نه رِوایت دے :چه په مِسواک کښې لس صفتونه دي: خُله پاکوي، ورئ مضبوطوي، نظر تیزوي، بلغم لري کوي، د خُلے بدبوئ

1...مُسندِاِمام احمد بن حنبل ج ص حدیث

ختموي، د سُنّت موافِق دے، فرښتے پرې خوشحاليږي، رب پرې راضي کيږي، نيکي زياتوي اومعده صحيح کوي[1] ❁ سيِّدنا امام شافِعي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: څلور څيزونه عقل زياتوي: د فُضولو [يعني بے فائِده] خبرو نه پرهيز، د مِسواك استعمال د صُلَحا (يعني نيکو خلقو) صُحبت او په خپل علم باندې عمل کول[2] ❁ مِسواک د پيلو، زيتون يا د شنډۍ وغيره د تريخ لرګي پکار دے. ❁ د مِسواک پيړوالے چه د کچي ګوتي يعني د وړوکي ګوتې همره وي. ❁ مِسواک چه کله د استعمال قابِل پاتي نه شي نو غورزوۍ ئې مه، ځکه چه دا د سنّت ادا کولو آله ده، چرته ئې په احتياط سره کيږدۍ يا ئې خخ کړۍ، يا څه کانړے وغيره وزن ورسره اوتړۍ او سمندر کښ ئې ډوب کړۍ.

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه دوه کتابونه (1) د 312 صفحو کتاب ''**بهارِشريعت**'' حصّه 16 او (2) د 120 صفحو کتاب ''**سنّتيں اور آداب**'' او د شيخِ طريقت امير اهلسنت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري دوه رسالے ''101 مدني پهول''او ''163 مدني ګلونه''هديةً حاصلې کړۍ او اولولۍ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو ډک سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...جَمعُ الجَوَامِع لِلسُّيُوطي ج ص حديث

2...حياةُ الحَيَوان ج ص

# د راروانے هفته وارې اجتماع د بيان جَلکيانے

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د راروانے هفته وارې اِجتِماع د بيان موضوع ده **"د تادئ کولو نقصانات"** د تادئ کولو څه څه نقصانات کيدے شي، معاشره کښې کومو کارونو کښې خلق تادي کوي او کومو کارونو کښې تادي کول پکار دي. دا ټول او نور معلوماتي نُکات به بيانيږي، لِهذا راروانه د جُمعے شپه هُم اِجتِماع کښې د شرکت کولو درخواست دے، پخپله به هم تشريف راوړئ او اِنفرادي کوشش اوکړئ نور خلق هُم ځان سره د راوستلو کوشش اوکړئ.

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلونکي (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے اور زيارت مينځنئ شپه) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1]

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصاً

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چه تاجدارِمدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښېنې ې يناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي.

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّدٍ

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1]

## ﴾4﴿ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صاوِى رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2]

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په مينځ كښې كښينولو، دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم حيران شو چه دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چه كله هغه لاړو نو سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چه كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1]

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2]

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا نه رِوايت دے چه سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[3]

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چه حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چه

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

شَبِ قَدر حاصل کړو.[1]

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم**

(د خُدائے حَليم وکريم نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، **اللہ** پاك دے چه د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِيم پروردګار دے)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

1...تاریخ ابنِ عساکر،۱۹/ ۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵